مسؤولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل مطیع الله روهیال

۲۰۲۱/۱۲/۱۴

# د کوشنیانو ژبه

پښتو د هغه قام ژبه ده چي وجود ئې د وخت جبر دوه ځایه کړی دئ او تر منځ ئې د ډیورنډ په نامه منحوسه فرضي کرښه ایستل سوې ده. د قام تر دوه ځایه کېدو وروسته ببلابېل اصطلاحات زېږېدلي دي. د لر او بر پښتانه اصطلاح د دغي تپل سوي کرښي تر ایستلو وروسته رامنځته سوې ده. د وخت جبر خپل کار وکړ او دغه لوی قام ئې دوه ځایه کړ، خو د شېراز د خوږ ژبي شاعر حضرت سعدي د فرمودې پر اساس چي وایي:

بـنـي آدم اعـضای یـک دیگرند
کـه در آفـرینـش زیـک گـوهرند

چو عضو به درد آورد روزگار
دگـر عـضــوهـا را نـمـاند قـرار

یو وجود او واحد پیکر دئ او هیڅکله به د دغه وجود فزیکي بېلوالی د هغه پر معنوي خوا تاثیر و نه کړي. د لر پښتانه وجود که خوږ سوی د بر قام پړی هم دردمن سوی دئ، هلته که د دې قام د سرکوبۍ او آزرده کولو هڅي سوي بر پښتانه ورسره زهیر سوي او زوکلېدلي دي، خو برعکس هر کله چي تر منحوسي کرښي ورها خوا کوم پښتانه د خپلي ژبي او قام د لوړېدو او هسکېدو هڅي کړي، بر پښتانه د غرور شمله هسکه نیولې او په هغو هڅو ئې ویاړ کړی دئ. که د دې خوا پښتنو د خپل نیمه خوږمن وجود د پټې کېدو ږغونه پورته کړي دي تر کرښي ها خوا دغو آوازونو انعکاس کړی او زموږ ږغونه راغبرګ سوي دي. زما د دغو خبرو ژوندی مثال د پروفیسور سیال کاکړ د کوچنیانو د ژبي په باب کوچنۍ لیکل سوې رساله ده، چي تر کرښي ها خوا لیکل سوې خو پر دې رساله د بر قام دوو ژبپوهانو هر یوه ډاکتر صاحب عبدالرازق پالوال او ډاکتر صاحب مجاوراحمد زیار سریزي لیکلي دي او د پروفیسور سیال کاکړ کړی کار ئې ستایلی او مثبت ارزولی دئ.

په ۱۹۷۹م کال د جنوبي پښتونخوا مشهور محقق او فوکلوریسټ پروفیسر ولي محمد سیال کاکړ (د کوشنیانو ژبه) په نوم کوچنۍ رساله ولیکله. دا رساله که څه هم د حجم په لحاظ ډېره کوچنۍ ده مګر د مفهوم او معنی په لحاظ ډېر لوی او ابتکاري کار دئ. ډاکتر پالوال هماغه مهال د دې رسالې د ارزښت او اهمیت په باب ولیکل: «د ښاغلي سیال کاکړ د کوشنیانو ژبه لومړنی اثر دئ چي زه ئې د یوه اکاډیمیشن پښتانه له خوا څخه پخپله ژبه کي لولم. ... زه نه پوهېږم چي تر اوسه پوري به بل چا پر دغي موضوع باندي داسي په زړه پوري لیکنه کړې وي، چي له هغې څخه دي نور ځوک برخمن سي. ښاغلي سیال کاکړ د یوې ډېري علمي څېړني ور پرانیستلی دئ.» (پالوال: ۱۱)

د پروفیسر کاکړ د کړي کار په باب د ډاکتر صاحب پالوال ادعا تر اوسه پر خپل ځای ده او لا داسي بل پښتون پیدا سوی نه دئ، چي د دغي مهمي او اساسي موضوع په باب له ښاغلي سیال کاکړ سره سیالي وکړي.

له سریزو پرته دغه رساله په وړه قطع اته دېرش مخونه لري، چي د کوچنیانو د ژبي، د ژبي د زده کړي او د دغي پروسې په باب ببلابېل موضوعات پکښې راغونډ سوي دي. په دې موضوعاتو کي د کوچنیانو ډولونه، د زده کړي ځایونه، د ږغونو مخرجونه، د کوچنیانو وینګ، ګرامري نیمګړتیاوي، ګړني اصطلاحات، فولکلوري خواوي، ویی پانګه او پسته ژبه هغه موضوعات دي چي په لنډ ډول د هر یوه په باب څېړنه او شننه راغلې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د دي ښېړني په باب د پروفيسر سیال کاکړ ابتکار دا دئ چي خپل پنځه کلن زوی میرویس او درې کلنه لور ملالۍ ئې له یو کلنۍ څخه تر یادي مودې پوري په پرله پسې ډول تر ښېړني لاندي نیولي دي. د هغوی د ژبزدکړي ټول مراحل هغه که د ږغونو د ادا برخه ده یا د کلماتو د زده کړي، که د لغاتو زخیره ده او یا د دغو کلماتو د زده کړي اولیتونه او سختۍ. دا ټولي برخي ئې یاداښت کړي او وروسته ئې د دغو یاداښتونو او تعقیبونو پر اساس خپله نتیجه بنا کړې ده. ممکن د دې نتیجې ځیني جزئي برخي تغیر وکړي خو د دې ښېړني لویي برخي به پر خپل ځای وي. زه باوري یم چي د دغي وړې نمونې پر اساس به لوی سمپلونه همدغسي ځانګړتیاوي او خاصیتونه ولري.

په دې رساله کي لومړی د کوچنیانو ډولونه راښوول سوي دي، هغوی ئې پر دوو ډلو وېشلي دي، یوه ډله ئې چالاکه کوچنیان او بله هغه ئې پڅ دماغه کوچنیان بللي دي. د زده کړي په ځایونو کي د مور غېږ، د کورنۍ غړي، همغاړي او عزیزان، چاپېریال، وړکتون یا ښوونځي ښوول سوي دي. د دې تحقیق تر ټولو اساسي برخه د مخرجونو په لحاظ د بېلابېلو ږغونو زده کړه ده. دغه جریان ئې په پنځو مرحلو کي ښوولی دئ او دا ئې د خپلو مشاهدو او تجربو پر اساس ښوولې چي یو کوچنی په لومړۍ مرحله کي د یوې ژبي واول ږغونه زده کوي مثالونه ئې د بابا، نانا، ماما ورکړي چي هر کوچنی ئې د واول ږغونو په مرسته ډېر ژر یعني د یوه کال په جریان کي زده کوي.

په دوهمه مرحله کي چي د کوچني د دوه کلنۍ موده ده د کانسنینټونو آسانه برخه آوازونه زده کوي چي هغه عبارت دي له پ، ت، ج، چ، ژ، ش، غ، ل او ګ څخه. په دریمه مرحله کي چي د یوه کوچني د ژوند دریم کال کیږي د کانسینیټونو یوه بله جوپه زده کوي چي نسبت لومړۍ ډلي ته ئې وینګ لږ سخت دئ. دغه جوپه عبارت ده له ذ، ز، ک او س ږغونو څخه. څلرمه مرحله چي یو ماشوم د خپل منګ څلورکلنۍ ته داخلیږي د پښتو د ځینو مخصوصو تورو تر څنګ څو نور بېواکه ږغونه زده کوي، لکه: ټ، ډ، ړ او ر. پنځمه او وروستۍ مرحله هغه سن دئ چي یو کوچنی پنځه کلن کیږي او د ښاغلي سیال کاکړ د ښېړنو او مشاهداتو له مخي: «موږ د عمومي مشاهدې له رویه ویلای سو چي دوی خپله ژبه بشپړوي، په دې مرحله کي ماشومان خپل ما فی الضمیر په ډېره ښه توګه بیانولای سي. د ژوند په همدې برخه کي زموږ کوشنیان د ځ، څ، ن، س او ږ ږغونه زده کوي. خو د خپلي لیدني کتني له مخي باید دا خبره ولیکم، چي د ښ او ږ تلفظ زموږ ماشومان خورا په ځنډ زده کوي. تر ښه ډېره وخته پوري کوشنیان ښ په ش او ږ په ژ تلفظوي، لکه غاښ په غاش او ږیره په ژیره بدلوي.» (سیال: ۳۵)

په پښتو الفبې کي د مشخصو عربي ږغونو په باب د پروفیسر سیال کاکړ نتیجه داسي ده: «د ف او ق دغه راز د ث، ح، ص، ض، ط، ظ او ع ږغونه چي په عربي پوري اړه لري، په دې باب باید څرګنده کم چي دغه اوازونه داسي دي چي د پښتنو لویان ئې لا سم نه سي ویلای، او که چیري یو نفر زیار هم وباسي، نو باور مي دئ، چي پلار به ځني فلار او فقیر به ځني پکیر سي.» (سیال: ۳۴)

تر دې وروسته ښاغلي سیال یوولس ږغونه د کوچنیانو په ژبه کي د هغوی د مثالونو سره راوړي دي او دا ئې ښوولې ده چي یو کوچنی کوم ږغ ډېر ژر زده کوي او کوم ږغ په بل اړوي. د دغو کلمو بېلابېل مثالونه ئې د یوه چوکاټ په توسط ښوولي دي. دغه نمونه ئې د یوولسو ږغونو د توضیح او تشریح له پاره استفاده کړې او تر پایه پاللې ده، زه ئې یو مثال ځني ټاکم:
د /ر/ ږغ. دا ږغ پښتانه کوچنیان ډېر ژر نه سي زده کولای، په یو کلنۍ حتی دوه کلنۍ کي د /ر/ پر ځای له /ل/ څخه استفاده کوي، په ټولو هغو کلمو کي چي /ر/ کار سوې وي دوی ئې په /ل/ بدلوي. مثلاً: (مور) په (مول) وایي، (خبري) په (خبلي) اړوي او (کور) په (کول) ادا کوي. د پښتو او فارسي د /ر/ او /ل/ ابدال ته په کتو چي د پارسي (دیوار) په پښتو کي په (دېوال) بدلیږي د کوچنیانو دغه ډول تلفظ بې ربطه نه دئ. د پښتو ژپېوهانو ښېړني ممکن یو څرک ځني وباسي.

تر ږغونو وروسته د کوچنیانو په ژبه کي ګرامري نیمګړتیاوي راښیي. د اضافت، ضمیرونو او تذکیر و تانیث په باب لنډي یادوني کوي. د اضافت په اړه لیکي: «کوچنیان تر درې کلنۍ پوري د پښتو اضافت بیخي نه سي ویلای» (سیال: ۴۲) په مثال کي ئې (د ماما کوټ) اضافي ترکیب راوړی چي کوچنیان ئې داسي وایي: (ماما کوت). دغسي هم ضمیرونه یو په بل اړوي، ملکي ضمیر (زما) په (ما) او (ستا) په (تا) بدلوي، د (زما ډوډۍ) پر ځای (ما نانا) وایي. د تذکیر او تانیث په اړه لیکي: «زموږ ماشومان د زده کړي په ابتدایي مرحلو کي د تذکیر او تانیث توپیر نه سي کولای، البته که چیري فاعل مذکر وي، نو کوشنیان فعل مذکر راوړي خو د مونث په صورت کي بیا داسي نه سي کولای.» (سیال: ۴۵) مثالونه ئې داسي راوړي دي: د (جباری راغلی) پر ځای وایي: «بالی آلی» خو کله چي وواېو (زرکو راغله) دوی وایی: «زرکو آلی».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تر دې وروسته د کوچنيان د لغوي زېرمې په باب لنډ بحث سوی او ځيني مشخصې کلمې راټولې سوي دي. که څه هم دغه ويی پانګه تر ښاغلي سيال کاکړ مخکې د پښتو يوه بل خواخوږي او لوی فوکلوريسټ ارواښاد استاد محمدګل نوري راټوله کړې او د خپل مشهور اثر (اصطلاحات او محاورې) کې ئې راوړې خو دا چې د ښاغلي سيال کاکړ له موضوع سره ئې ډېر ارتباط درلود دوی هم يو لنډ لست راوړی دئ. د دې لست څو مثالونه داسې دي: ښايسته، او ښکلي شي ته کوچنيان کوکو او واوا کلمه کاروي، پسه او بوزې ته امبا وايي. سترګې چګي يا چګاني بولي، تريخ يا خراب شي ته کخ وايي، وريجې ممۍ بولي او ډوډۍ ته نانا وايي. که په پښتو قاموسونو کې زموږ د ژبې دغه برخه ثبتيږي امتياز ئې زموږ په کوچنيانو اړه لري.

تر دې وروسته د کوچنيانو د فوکلور ځيني مثالونه او نمونې راوړې او د کتاب په پای کې د (پسته ژبه) تر عنوان لاندې يو اوږد جدول راځي چې ځيني ترکيبونه او جملې د کوچنيانو په ژبه پکښې ثبت سوي او راټولې سوي دي.
ما چې کله د حاضري مقالې له پاره د نوري مطالعې په جريان کې يادښتونه بشپړول، يو ځای مې ولوستل چې يو کوچنی له يوه کال څخه تر يونيم کلنۍ پورې د سلو کلمو لغوي زېرمه لري، خو زه داسې فکر کوم چې دغه کميت ممکن د کورنيو جوړښت ته په کتو توپير وکړي، که چيري يو کوچنی په داسې کور کې زوکړی وي چې د هغه کور غړي محدود وي ممکن لغوي زېرمه او د ژبزدکړې پروسه ئې هم محدوده وي خو که د کوچني کورنۍ پراخه او لويه وي، مثلاً پر مور او پلار سربېره نيکه، انا، اکاګان او د هغوی کوچنيان ګډ ژوند وکړي نه يوازي دا چې د هغوی لغوي زېرمه به پراخه وي، بلکې د هغوی پر ژبزدکړه هم مثت تاثير لرلای سي.

د کوچنيانو د ژبزدکړې مهمه پروسه د ږغونو د زده کولو او ادا کولو جريان دئ چې د يوې ژبې اساس توک بلل کيږي، د ښاغلي سيال کاکړ د مشاهداتو پر اساس د دغې ټولې پروسې نچوړ داسې ښوولای سو: «څرګنده دي وي چې کوشنيان لومړی وار د يوې ژبې خپلواک آوازونه Vowels زده کوي او بيا وروسته د بېواک ږغونو Consonantsپه زده کړه پيل کوي. په بېواک ږغونو کې کوشنيان لومړی وار شونډيز آوازونه Labial Soundsاو بيا غاښيز آوازونه Dental Sounds زده کوي. بيا وروسته کوشنيان په بې ترتيبه ډول ملفوظي ږغونه Cerebral Sounds او ځيني نور زده کوي.

د ژبپوهني په رڼا کې موږ ويلای سو چې کمکيان په آخر کې رايه اوازونه Trill Sounds او حلقي ږغونه Velor Soundsزده کوي او دا دي هم څرګنده وي چې کوشنيان په شرو کې اسمونه Nouns او پس له هغې د فعلونو Verbsپه زده کړه پيل کوي.» (سيال: ۳۵)

زه چې د خپلې ژبې سره زموږ روانو بې پروايو ته ګورم، خدای ته شکر کاږم چې پر دې ژبه ئې د ښاغلي سيال کاکړ غوندي خلګ هم پيرزو کړي دي چې د کوچنيانو ژبزدکړې ته متوجه سوی دئ او په دې باب ئې لومړۍ ابتکاري هڅه کړې ده، او اميد لرم د پښتو ژبې دغه اساسي موضوع به زموږ نوي ژبپوهان پراخه او نوره هم وڅيړي. په پای کې به يادونه وکړم چې ممکن د دې رسالې ټول راټول سوي مواد د ژبپوهني د اصولو سره سل په سل کې سر و نه خوري خو زموږ ژبپوهانو او د دې لارې متخصصينو ته د اومو موادو حيثيت لري،
څنګه چې يو بنا د يوه تعمير له پاره ربګ، خښتو، جغل او سمينټ ته اړتيا لري تر څو ښکلی او مضبوط تعمير جوړ کړي، همداسې زموږ د ژبې پوهان دغسې اومو موادو ته اړتيا لري چې د پښتو ژبې د يوې مشخصې برخې بنياد پر ودروي.

موږ د ښاغلي پروفيسر ولي محمد سيال کاکړ د کړي کار پوروړي يو، خدای دي دوی ته روغ صحت ورکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ